**مطبوعاتي اعلامیه**

**په داسې حال کې چې سټلایټ چینلونه د غزې د خلکو د وژنې ژوندۍ صحنې خپروي**

**د "نړیوالې ټولنې" د عدالت نړیواله محکمه د شواهدو لټولو لپاره غونډه کوي!**

(ژباړه)

د عدالت نړیوالې محکمې لومړۍ غونډه د ۲۰۲۴م کال، د جنورۍ په ۱۱مه جوړه شوه؛ په دې غونډه کې یې هغه شواهد وکتل چې د یهودي اداري لخوا د غزې د خلکو د نسلوژنې په اړه سوېلي افریقا وړاندې کړي وو. دوی د خپلو استماعیه غونډو بهیر ته دوام ورکوي او خلک ورته په تمه دي چې نهایي یوې پایلې ته ورسیږي او یهودي دولت وغندي. هېڅوک نه پوهیږي چې ایا دوی به بریالي شي چې ثابت او مستند شوي څه ثابت کړي؛ ایا لوی قدرتونه به اجازه ورکړي چې د یهودي دولت د محکومېدو په صورت کې د محاکمې پایلې اغیزه ولري.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د سوېلي افریقا د خلکو دغه دریځ د ستایلو دی؛ دوی له لسیزو راهیسې د فلسطین د خلکو پر وړاندې خپل انسانیت کوي او دا ډول دریځونه نیسي. دوی هم په خپل هېواد کې له څو لسیزو نژادي تبعیض او استعمار ځخه کړېدلي. موږ یې دا دریځونه ستایو او مسلمانان داسې امت نه دی چې خپل ملاتړي هېر کړي. دوی په داسې حال کې له غزې څخه ملاتړ کوي، چې له غزې زرګونه کیلو متره لرې پراته دي؛ خو مسلمان حکام چې یهودي دولت یې بشپړ محاصره کړی او ترې چاپېر دي، په دغه کار کې پاتې راغلي.

د انځور بل اړخ ته که وګورو، دا هغه دروغ دي چې د اسلامي امت په مخ کې اچول شوي. د غزې خلک اړ دي چې د غربي قضاوت پر وړاندې په داسې حال کې ودرېږي، چې په خپلو وینو کې لت پت وي، د خپلو ماشومانو جسدونه یې ورته راوړي وو او تر شا یې د خپلو ویجاړو ښارونو پاتې برخې وي؛ بیا دوی ته ثابته کړي چې پر موږ ظلم شوی! د محکمې مخې ته غربي رسنۍ له خپلو درواغو استدلالونو او ګمراه کوونکو خبرو سره ولاړ دي او پوښتنه کوي: «ایا تاسو  هغه څه غندئ چې د اکټوبر په ۷مه پېښ شول!؟»

د غرب دریځ داسې دی: «اې مسلمانانو، ستاسو وینه، ځمکه او پیسې ارزښت او تقدس نه لري، موږ یهودي دولت ته اجازه ورکوو چې ستاسو ماشومان، ښځې او بوډاګان ووژني؛ ستاسو کورونه وران کړي لکه څرنګه چې موږ په عراق او افغانستان کې وران کړل او خلک مو ووژل. تاسو د اعتراض حق نه لرئ. که تاسو وایئ چې فلسطین یوه اشغال شوې اسلامي خاوره ده، نو د یهودو پر وړاندې د دښمنۍ قوانین چمتو دي چې تاسو تورن کړي، ومو ځوروي او پر هغه چا هم ظلم وکړي چې خواخوږي درسره کوي. که مو نه خوښېږي هم باید ووایئ چې موږ (غرب) بشرپال یو او تاسو (مسلمانان) ترهګر یئ؛ باید خپل ځان وغندئ. دا مه هېروئ چې تاسو استعمار شوي یئ او

موږ استعمار کړي يئ؛ عدالت هغه څه دی چې موږ وايو. تاسو له هغه څه پرته چې موږ يې تصميم نيسو، نور هيڅ حق نه لرئ»

د يهودو پر وړاندې د دوستۍ او له مسلمانانو سره د منافقت په اړه د غرب دريځ  داسې دی.

زموږ، مسلمانانو لپاره زړه ماتوونکې پوښتنه دا ده: زموږ پوځونه څنګه کولی شي دغو ټولوژنو، د حکامو خيانت، د اشغال سپکاوي، د غرب ملاتړ او د غربي رسنيو خيانت ته همداسې وګوري؛ په داسې حال کې چې د مظلومو مسلمانانو دا چيغې اوري چې «اې مسلمانو پوځونو، تاسو چيرې ياست!؟»

د الاقصی طوفان عملياتو يهودي دولت ولړزاوه او څه نه وو پاتې چې راوپرځېږي. د غزې د خلکو په بمبارولو کې يې جنون او د دوی له جنايتونو د غرب بشپړ ملاتړ يوازې د دې لپاره و چې دولت يې د سقوط پر څنډه ولاړ و. له هغه وخت راهيسې د يوې لارې په لټه کې دي که وخت بېرته د ۲۰۲۳م کال، د اکتوبر له ۷مې يوه ورځ وړاندې لاړ شي او دوی د اړيکو عادي کولو خاينانه بهير له لارې خونديتوب ومومي. که له يوې بلې جبهې بريد شوی وی، نو د اکتوبر تر پايه به د فلسطين سپېڅلې خاوره ازاده شوې وی. د امريکا د بهرنيو چارو وزير، انتوني بلينکېن سفرونه، لکه په خپلو لومړيو سفرونو کې يې چې ويلي و، يوازې د دې لپاره وو چې د يهودي دولت پر وړاندې د بلې جبهې د پرانستلو مخه ونيسي.

د فلسطين سپېڅلې خاورې د آزادولو لار دا ده: د مسلمانانو د پوځونو حرکت او بسيج؛ له يهودي ادارې څخه د دغې ورځې فکر لار ورکړه کړې؛ دا يوازې يو ساعت حوصلې ته اړتيا لري. مسلمان پوځونه د دې ورتيا لري؛ له دوی سره هم هغه الوتکې او بمونه شته چې يهودي دولت غزه پرې بمباروي. که د مسلمانانو څو جنګي الوتکې د يهودو پر پلازمينه بريد او د بمونو باران وکړي -لکه يهود يې چې پر غزه کوي- نو د يهودي دولت خبره ختمه ده. د يهودي دولت د کمزوري او اسانه ماتېدونکي هوډ پر وړاندې د مسلمانانو هوډ او زړورتيا خورا لويه ده!

تش په نوم نړيوال بنسټونه يوازې د شکايتونو صندوقونه دي. دوی هيڅ له مانا ډک اقدام نه شي کولای؛ يوازې دومره دي چې استعماري هيوادونه يې د خپلو ګټو لپاره وکاروي يا داسې اقدام پرې وکړي چې د دوی په ګټه وي. د فلسطين مسله داسې ده چې استعمار ارزښت ته په کتو غصب کړ او بيا يې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره يهودو ته ورکړ. اوس يې غرب ساتي چې ترې ونه شړل شي؛ نو له دې هر څه وروسته له دغو بنسټونو څه تمه کېدی شي!؟

د يهودي دولت حکام او د اسلامي هيوادونو حکام يو شان دي. دوی په خپلو هيوادونو کې مسلمانان بنديان کړي؛ که سر پورته کړي وهل کيږي، بمباريږي او له منځه وړل کيږي. دا شيطاني کړۍ يوازې هغه وخت ماتېدی شي چې مسلمان پوځيان حرکت وکړي؛ دا حکام له مخې لرې کړي او د فلسطين سپېڅلې خاورې ملاتړ وکړي.

الله سبحانه وتعال فرمايي:

**[وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ] [انفال: ۷۲]**

**ژباړه:** *« کله چې څوک د دين لپاره له تاسو نصرت وغواړي، نو پر تاسو فرض ده چې دوی ته نصرت ورکړئ»*

**انجنير صلاح الدين عضاضه**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د رجب ۲مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۱۴مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۵/۰۲۱**

**ژباړن: محمد حامد**